# پښتواني او اوسنی ادب

## آيا پياوړی او بشپړ دئ؟

ډېر ځله اروم، چې ځيني نوي زلمي او هغه څوك چې د دنيا د نوی ادب بوی ئې تر سږمو سوئ وي پر پښتواني ادب څېړني كوي او غواړي چې په نوي ډول زاړه عيبه ډاندس كړي، او لـه دغـو زړو ادبياتو څخه نوی كار آمد امتعه كړي.

د دې لپاره چې په ژبه او ژبنيو مباحثو كښي د كره كولو او تنقيد او گوت منډی لاره ونه ترله سي نو داسي مباحث اروېدل او داسي څېړني او گروېږني كول خورا ښه كار دئ، كه څه هم په سل كښي شل د حقيقت وړانگي نه لري، خو بيا هم د آينده گانو د لارښووني لپاره بې گټي نه دي او ښه ده چې داسي څېړني ډېري سي او د ادبي انتقاد روح وپالل سي.

دوی وايي : چې د پښتو پښتواني ادب ډېر نيمگړی او ناقص او بې خونده دئ، ځكه چې ټول شاعران پر يوه لار تللي، او يوه رويه ئې نيولې ده.

دوی وايي : پښتواني شاعران تش خيال پروره خلك وه د شعر په دنيا كښي د حقيقت څخه ډېر ليري وه.

دوی وايي : په پښتواني شعر كښي تفنن او ډول ډول مضامين ويل نسته، لكه په پښتواني مغربي ادب كښي چې ډرام او افسانه وه، پښتو ادب ئې نه لري.



دوی وايي : ......

دوی وايي : ......

خو داسي خبري ډېري كيږي او داسي اتري ډېري اروو، او د پښتو په اصطلاح هسي غوري ډېري دي او هر څوك چې په ادبي دنيا كښي د ځان لپاره د خبرو حق حاصلوي له داسي خبرو څخه خوله نه نيسي.

زه غواړم چې د دې څو كرښو په وسيله خپل ښاغلي ليكوال او پياوړي پوهان بحث او څېړني ته راوغواړم چې دوی هم په دې جگړه كښي خپله رايه ښكاره كړي او نه پرېږدي چې د نوو نقادانو نقد او كره كول فقط د دوی فكر او خيال ته پاته سي، او په مقابل كښي تصديق يا ترديد نه واوري.

زما ښه په ياد دي، چې څو كاله دمخه يو فاضل او پوه سړي د پښتو پر پښتواني ادب تنقيد كاوه او ويل ئې چې : شعر او ژبه ورانه ده، پردي لغات او كلمات ئې په ومنډل، دا هم يوه خبره ده، او تر يوې اندازې حق هم لري، ځكه په شعر كښي شاعر د خپل مقصد تابع وي، او د ژبې سوچه كېدو ته ئې هڅو فكر هم نه وي.

خو لنډه دا ده : چې پر پښتواني ادب له دوو پلوو تنقيد كاوه سي، ځيني ئې له مضمونه له مخي فقير گڼي، او ځيني ئې د الفاظو او كلماتو له خوا معيوب بولي. دا دوې ډلي د دوو مختلفو نقطو څخه گډي دي، لومړی فرقه د غربي ادب دلباختگان دي، او هر څه چې هلته ويني دلته ئې هم غواړي. كله د شكسپير ترانې په پښتو ادب كښي لټوي، كله د گوئټې او د انتي او روسو غونډي مضامين او افسانې ځني غواړي.

دوهمه ډله وايي : د رحمان بابا ژبه سوچه نه ده، خوشحال خان ډېر پردي لغات استعمال كړي دي، حميد د مضمون غل دئ او نور ... يوه بله ډله خلك هم وينو : چې دوی ته په شاعري كښي

ښېله ښېدلانه مضمونه بل څه خوند نه ورکوي، د مجلس نقل ئې د بېدل د پېچلو او مغلقو اشعارو پلټنه او څېړنه ده. دا ذوق خلک بيا هر شعر چي ساده او بسيط وي او تر اروېدلو وروسته ژر سړی په پوهيږي، دوی ئې نه خوښوي، وايي : دا كله شعر وي؟ دا خو ساده خبره ده !

د ذوقو اختلاف دوني دئ، چي سړی ئې د خبرو په منځ کښي ورکيږي، د حق رښا د تنقيد په تيارو کښي ډوبيږي او هر سړی د خپل ذوق لپاره زيار کاږي، د نورو ذوق هيڅ نه گڼي.

**د پخوانو له خوا دفاع :**

علم او تجربو دا خبره اوس ښه زياده کړه چي د محيط اغېزه پر هر شي خورا قوي ده، محيط عصر، زمان، مکان دئ يعنی هر عصر خپل اثرونه لري، هر مکان خپلي اغېزي لري، د هري زمانې د فکر سويه ښېله وي، د هر ځای اوبه، هوا، مځکه ښېل ښېل تاثيرونه لري.

شعر او ادب د دغو ښېلو ښېلو اغېزو مظهر دئ، که سړی وغواړي، چي د انسانانو د قديمو زمانو څخه بيا تر اوسه افکار او خيالات معلوم کړي د هري زمانې شعر دي وگوري، شاعر د خپل عصر، خپل زمان او مکان نماينده دئ، د شاعر فکر د خپل محيط هنداره ده، دا خبره ډېره نامعقوله ده چي سړی د دوو پېړيو دمخني شاعر څخه اوسني افکار غواړي. د پخوانو ادباوو آثار د هغه عصر نماينده دي، د خپل عصر او محيط ايجابات دوی حس کړي دي او د هغه عصر او زمان له پلوه موږ نه سو ويلای چي پخواني شعر نيمگړئ وُ، که خوشحال او رحمان د شکسپير غوند هملټ نه دئ ليکلئ، يا د گوئټي غوند فاوسټ نه لري، دا خبره د هغو د شعر د نيمگړتيا دليل نه ده.

وايي : چي د پښتنو شاعرانو پر روح غم او وير غالب ږئ، د جهان اساس ئې پر وير ايښئ دئ، د ژوندانه د نشاط او د سعی او



عمل پلو نه لري، سړی د دنيا له کاروباره باسي، څوک چي د رحمان بابا دا بيتونه ولولي، بايد وژاړي :

هومره اوښکي د عاشق پر گريوان ووري
ته به وايي چي يو سيند دئ گريوان نه دئ
يو عاشق دي څوک راوښئي په عشق کي
چي ئې رود په مخ د اوښو روان نه دئ

غربي شاعر د طبيعت له ښايسته خوند مومي، د آسمان په شنه درياب کښي د نشاط او خوښۍ غوټې وهي، لکه مارغه الوزي، د خوښۍ وزرونه سرپوي، اما پښتون شاعر د آسمان شنه لاسونه د غوږو د تاوولو لپاره تل را ايستلي گڼي :

هر ساعت زما د غوږ په تاوولو
د فلک لاسونه شنه سوه تر څنگلو

**(رحمان بابا)**

د شاعر وير او ماتم دوني ډېر دئ چي دی خو مسلسلاً ژاړي، مگر پر ده نور عالم هم ژاړي، گويا زموږ شاعر د ځان او د نورو د ژړولو لپاره راغلئ دئ :

ستا په غم کښي چي ما ويني عالم ژاړي
ژړوې راسره نور عالم په څه ؟

**(رحمان بابا)**

راسئ چي د انصاف په سترگو وگورو : که د رحمان بابا له شعره موږ د وير څپې وينو، او هر کله د آسمان لاس د غوږو د تاوولو لپاره شين گڼي، آيا دغه بيتونه ئې د ژوندانه پر ميدان ، د سعی او عمل په تلقين کښي څوني قيمت لري؟ وگورئ !

لکه ونه مستقيم پر خپل مکان يم
که خزان راباندي راسي که بهار

يا دا :

د طلب له کوتاهۍ ويره وکـــــړه
که هر څو دي لار کوتاهه ده طالبه

يا دا :

سم له لاسه چاري نه سي مرد هغه دئ
چي بيدار وي و غليم وته لـــــه ورايه

خو که رحمان بابا د عشق له ماتمه ژړا کا، د دنيا لـه چـارو هـم ناخبره نه دئ، د ژوندانه پر ډګر د پښتانه په دود ولاړ دئ،تينګار ئې داسي دئ چي پسرلی او منی ئې لکه ونه ښورولای نه سي خو کـه دی د آسمان لاسونه د غوړو په تاوولو شنه ګني، شيخ متی بيا له دې منظرې څخه خوندونه اخلي د جمال او ښکلا ځلانـد انـوار پکښـي ګوري وګورئ په دې شـعر کښـي د جمـال څـوني تـابش دئ او د طبيعت ښايست څنګه ستايل کيږي :

که لمر روښانه مخ ئې سپين دئ
سپـــــوږميه تندی وريـــــن دئ
که غر دئ ښــــکلی پرتمين دئ
لـــــکه هنداره مخ د سين دئ
ستا د ښکلا دا پلوشه ده
دا ئې يو سپکه ننداره ده

(شيخ متی)

خوشحال خان هم د آسمان جمال ته هېښ دئ، او ننداره کا، او نور هم دغي ننداري ته راغواړي :

راسه وغږوه ستـــــــــرګي
د جهان ننداره ګـــــــوره
چي ښايست لري په ستوريو
د آسمان ننداره ګـــــــوره

نو که دی کله کله په وير هم اخته کيږي، او داسي وايي :



چي په هيڅ ساعت خالي نه وي له غمه
مـــــګر غـــــم لره پيدا دئ آدمي

دا خو موږ د مغرب په ژوندی دنيا کښي هم وينو، د قنوطيـت او تشائم فلسفه خو هم له هغه ځايه راغلې او شوپنهاور غونـدي مشـاهير په دغه فکر وُ بلکی دوی د حيات سته پر وير او تشائم ايښې وه.

د دنيا په ادب کښـي لـه پخوانـو زمـانو څخـه دغـه د ويـر روح موجود وُ، لکه په دنيا کښي چي ترخه او خواږه سته، کـه زهـر سـته، ترياق هـم سـته، دغسـي هـم پـه ادب کښـي منفـي او مثبتـي لاري ښکاريږي، ځيني خلق خوش بين، هوسناک، پر خوند مـين، ماديـت ته ورځرمه وي، ځيني بيا ويرژلي، په غم لړلي، له خونـد لـيري، او د معنا خواته مايل وي. معترضين وايي : د دنيا په ادب کښي نشـاط دئ، حيات دئ، حرکت دئ، عمل دئ، سعی ده، زيار دئ، خونـد دئ، ژوندی روح دئ.

هوکې ! زه هم دا منم، چي دغـه ټولـه پکښـي سـته امـا يـو وار وګورئ، نن ورځ چي ژوندي، غښتلي، زيارکښ ملتونه په اروپا کښـي سته د دوی په ادب کښي هم داسي د ويره ډکـي نغمې سـته چـي ښائي زموږ په ادب کښي نه وي.

د شکسپير په هلمټ کښي څه نارې غلبلې سته؟ د ګويټي د ورتر له کمو ويرو او ناورينو ډک دئ؟ فاوسټ په ژوندون کښي څه اعمـال لري؟ د اروپا رومانتيـک ادب څـوني د ويـر او الم او نـاورين پانګـه لري؟دا ټوله خو سته، مګر د دغو ملتو سرنوشت د سـعی او عمـل، د نشاط او ژوندانه له خوا هم موږ وينو.شاتو بريان وايـي : "د انسـانانو طبيعي سندري هغه دي، چي له ويره سره وي، زموږ زړه داسي دئ لکه يو مات رباب چي تارونه ئې شلېدلي دي، که وغواړو چي د دغه رباب څخه د خوښی نغمې واورو، ښائي چي د غم او وير پـه شـهباز ئې وږغوو."

گورئ : زموږ خوشحال خان دا فلسفه څنګه څرګندوي :

په باغ کښې خلک په مېوه شخوند کا
په خوله کښې هره مېوه خپل خوند کا
ترخه هم ښــه دي په دا جهـــان کښې
د خوږو قدر ترخه څرګــــــــــند کا

که د دنيا په ادب کښې ځير سو، او ښه ورته وګـورو پـه هـر ادب کښې دغه عناصر مختلط دي، هيڅ ملت داسي نسته، چـي د ويـره سره ښادي نه لري، او د ښادۍ سره ئې پر څنګ وير نه وي.

زموږ پخوانی ادب هم دغسی دئ، د وطنيت احساسات، د ملت محبت، د قوم پېرزوينـه دا ټوله عنـاوين چـي مـوږ تـه نـوي ايسـي زموږ په ادب کښې سته، د خوشـحال دغـه يـو بيـت د ټولـه جهـان قيمت لري:

د عالم ډېري خبري، لور په لور توري لښــکري
زړه مي نه خوځي له ځايه، غر خو هسي وي کنه؟

تاسي به د دنيا د شعراؤ مراثي لوستي وي، شاعر چي ژاړي ځان او جهان ئې ټول هېر وي، مګر دغه پښتون ؤ چي ځوان زوی ئې مړ ؤ، خو دی د خپل ملت په غم کښې ؤ، او ويل ئې :

کشکي ځوان د پښتانه په ننګ کښې مړ وای
سل افسوس چي سوې روان ته له تلتـــــــکه

واخلئ ! د دنيا شعر او دېوانونه وپلټئ، وئې ګورئ، کمه مرثيه د دې بيت قيمت لري؟

کـم د ژونـديو ملتونـو اديـب د غـم او رثـاء پـر وخـت د قـوم غـــم نـــه دئ هېــر کـــړئ؟ د پښتنـــو د پاچهـــانو ســـره هـــم دا روح ملګـری ؤ، جهـان پهلـوان امـير کـروړ چـي کـم شـعر ويلـئ دئ دی هم د خپل قوم د روزني او لوړوني احساسات پخپـل شـعر کښې ځايوي :



خپلو وګړو لره لـــــــــور پېرزوينه کوم
دوی په ډاډينه ښه پالم ښه ئې روزنه کوم
تل ئې ودنه کوم      له ما اتل نسته

ځيني خلک وايي : چـي د پښتـو ادب د اقسـامو لـه پلـوه هـم نيمګړئ دئ، دوی وايي هغه د ادب اقسام چي نن پـرون پـه اروپـا کښې سته پښتو ئې نه لري.

زه هم دا وايم، چي هو ! نه ئې لري، مګر دا ولې؟

سبب ئې دا دئ چي هر راز محيط د يوه ډول ادب موجـد دئ او احتياج د ايجاد مور ده، تر اوسه پښتانه په دغه دنيا کښې نـه دي ننوتلي، دوی د اروپائي ادب اقسامو ته خپل احتياج نه ؤ کړئ او نه په مشرقي ملتو کښې دغسي ډول ليکني باب وې، نو ځکـه پـه پښتـو کښې نوی ډول ادبيات، قصص او افسانې، ډرامې او ناولونـه نسـته.

مګر چي ژبه وي، د عصر او زمانه سره ترقی مومي، او پر خپل موقـع دغسي نوی نوی عناصر پکښې ګډېږي.

که مقصد مطلق قصه او افسانه وي دغه خو د پښتو ادب يو مهـم رکن دئ، پښتانه ځانته عشقي قصې او د عشق او ادب پهلوانان لري، ډېري ملي قصې اوس هم په موږ کښې سته خو کـه مـوږ هغـو تـه د اهميت په سترګو وګورو، استفاده ځني کـولای سـو، مخصوصاً کـه نوی عناصر په ګډ کړو.

**څوک مقصر دي؟**

دغه نېمګړتياوي چي د اوسني ادب نقطهٔ نګاه څخه زمـوږ ادب ته متوجهي دي ډېري دي او د تنقيد کوونکي لپاره ښه زمينه ده.

لومړی دا وايي : چي کميت ئې لږ دئ، يعنی وسيع او پـراخ او حاوی ادب نه لرو.

دوهم وايي : چي کيفيت ئې هم محدود دئ، زار، زار خوندونه او انواع نه لري. دغه دواړي خبري زه هم تر يوه ځايه منم، قـدماؤ

چې څه کړي دي لږ او محدود دي، د اروپا ادب ته نه سي رسېدلای، مګر د ادب تقصير دئ، که زموږ؟

د هغو خلکو ګناه ده چې څه ئې نه دي کړي او که د هغو خلکو چې د خپله توانه سره ئې زيار کښلئ دئ؟

زموږ د ادب پخواني ائمه نه دي مقصر، خو مشران مو مقصر وه، چې دوی پښتو ته توجه نه کوله، ادباء ئې نه روزل، ادب ئې په ياد هم نه وُ.

زموږ ژبه مقصره نه ده، د ژبې ويونکي مقصر دي، چې دوی علم او ادب ته نه خير کېدل، او نه ئې پالله. که نه وي د ژبې فطري استعداد خو دوني دئ چې په دغه لږ او محدود ادبي هم د نورو متوسطو ژبو سره سيالي کوي.

که په غور وګورو د انګليسي او فرانوسي او جرمني او نورو ښو ژبو ادب دمخه دوني لوړ او ارت نه وُ لکه اوس چې دئ. خو محيط، زمان، خلکو ئې ادبيات وروزل او ارت ئې کړل نو که پښتو ادب چا نه وي روزلئ، اساسي توجه ئې نه وي کړې، دا خو د دغه ادب قصور نه دئ.

موږ هر کله خپل قصور د ژبې په غاړه کوو، د خپل وګړو بې اعتنا پر ژبه وربارو، مګر دغه د انصاف لار نه ده، دغه خلک چې پر پښتو ادب د نيمګړتيا تنقيد کوي ښه دا ده چې دوی ئې زر زده کړي، او ادبي خدمت ورته وکړي، کنه تش تنقيد ګټه نه لري، او خپل تقصير پر ژبه اچول بې انصافي ده.

**پخواني او اوسني :**

زما په عقيده د پخوانو ادب د دوی لپاره بشپړ او کارآمد ادب وُ، او موږ ته هم ډېر غنيمت دئ. که دوی نه وای اوس به ژبه راڅخه ورکه وه، پخواني پخپل مقام کښې محترم دي اوسني نسل بايد هيڅکله د پخوانو ادبي زيار هېر نه کړي، او د دوی احترام په زړه



کښې وساتي. د پخواني ادب قوي عناصر زموږ اوسني ادب ته ډېر مفيد دي د دوی د تخيل قدرت او غښتلي توب اوسنيو ته بل مثال دئ، د دوي د حقيقت پلو د خوندي کولو وړ دئ، د دوی تلقين او اخلاقي تبليغونه په اوسنۍ زمانه کښې هم په درد خوري، د دوی ملي او وطني جذبات او پاک احساسات او د نوعيت افکار ډېر سپېڅلي او د پيروۍ وړ دي. خو هغه څه چې دې عصر او زمان له اړتياو سره سم اوسنيو پر ادب زيات کړي دي بايد وساتل سي او تقويه سي او ډېر وليکل سي.

په اوسني ادب کښې هم موږ ډېري نوي اړتياوي او عصري احتياجات لرو هرو مرو بايد دغه نيمګړی پلورنه بشپړ کړو، او ځان ته يو ملي ادب جوړ کړو.

زموږ اوسنی ادب د شعر او نظم له خوا اوس هم پياوړی دئ، خو د قصې او ډرام او روايي شعر څخه بالکل لاس توري يو تر اوسه موږ په پښتنو ليکونکو کښې يو افسانه ليکونکی او ډراماتيک ليکوال نه لرو، تر اوسه مو حتی د دنيا د نوی ادب آثار ترجمه کړي هم نه دي. يو داسي وخت ژر راتلونکی دئ، چې موږ دي د ملت د روزني او فکري پالني لپاره د تمثيل فن عملي کو، او لکه دنيا چې اوس کار ځني اخلي موږ ئې هم واخلو. مګر آيا موږ کم قصه ليکونکی اديب يا شاعر لرو؟

په ! ... زه پښتنو ليکوالو ته د خپل ادب د ناقص پلو يادونه کوم، هغه څوک چې د دې فن ذوق او استعداد لري بايد توجه وکړي.

**شعر که وعظ؟**

په اوسني ادب کښې زما په عقيده د شعر قدر ډېر ټيټ سوئ او هم مبتذل سوئ دئ. پخوانو د شاعرۍ لپاره مخصوص مضامين درلودل او هم ئې د بيان طرز او اصول بېل وه، دوی د تخيل له رنګينۍ څخه کار اخيست، او کله کله به ئې د صنعت او آرټ په

مرسته خپل وچ مضامين جوړول. اوسني ادباء له دې ښېګڼې څخه لاس توري ووتل، دوی دا خيال کوي چې په اوسنۍ نوې دنيا کښې هغه زاړه رسوم او آداب پالل ښه کار نه دئ، ځکه چې موږ د ملت د اصلاح لپاره شعر وايو، نو ښائي چې مفيد مطالب په خپل شعر کښې ووايو.

دې فکر د اوسنيو شاعرانو آثار خورا وچ کلک کړل، او که جرات وکړم، نو به ووايم چې ډېر اشعار اوس تش وعظونه دي او د شعر رنګ نه لري، د شاعريت کمال هيڅ نه پکښې ښکاري.

ليکوال او شاعران دې ما وبخښي، جرات کوم او د دوی حضور ته څو خبري وړاندي کوم چې اوسنيو ډېرو خلکو چې د شاعرانو په نامه ئې ځانونه مشهور کړي دي د شعر قدر ئې کم کړ.

موږ پر پخوانو تنقيد کوو، مګر خپل ځانونه مو هېر دي د پخوانو شعر شعر ؤ، مګر موږ وعظ کړ، د پخوانو شعر فن او هنر ؤ مګر موږ واخيست وچ کلک نصيحت مو ځني جوړ کړ.

پخوانو به خپل مطالب د شعر په لباس کښې پېچل مګر موږ ئې د نظم په کالو کښې نغاړو، پخوانو به په زړه کښې درد، جذبه، احساس او عاطفه درلودل، مګر موږ اوس تش ويونکي يو، شعر او وعظ ډېر سره ليري دئ يو شاعر به واعظ وي، مګر د شعر په فن کښې، مګر د واعظ شاعر کېدل مشکل کار دئ البته ناظم به وي.

په اوسنيو شعراؤ کښې څو تنه زه پېژنم چې د دوی شعر د شعر رنګ لري، د آرټ قوه ورسره ملګرې ده، مګر ځيني ناظمان هم سته چې دوی ته شاعران ويل د شعر قدر لړول دي.

اوس په دې خبرو کښې دغوني ورغېدم. بيا به سره ګورو که ژوند ؤ. (۱)

---

(۱) کابل مجله، ۱۳۲۲ لمريز کال، ۸ مه ګڼه. ۱ _ ۵ مخونه.